Providence Schools

## د 2028 درسي ټولګی

### د فراغت اړتیاوې

د پرووایډینس له عامه ښوونځي څخه فارغ کېدو لپاره باید یو زده کونکی ① په ټاکلو مضامینو کې لږ تر لږه 21 کریډیټونه ترلاسه کړي، ② لږ تر لږه د کالج او مسلک د چمتو والي په یوې ازموینې کې ګډون وکړي، ③ د مدني علومو د فعالیت پر بنسټ فراغت پروژه بشپړه کړي او ④ د خلص سوانح په ګډون د انفرادي زده کړې پلان بشپړ کړي.

### 1 | د عالي لیسې د کورس کریډیټ اړتیاوې

دفراغت لپاره، یو زده کونکی باید په لاندې توګه 21 کریډیټه لږترلږه پوره کړي:

- 4 د انګلیسي ژبې هنرونه
- 4 ریاضي (اړین الجبر 1، هندسه، الجبر 2)
- 3 ټولنیز علوم (اړین د نړۍ تاریخ یا ددې معادل، مدني مطالعات، د متحده ایالاتو تاریخ)
- 3 ساینس (2 لابراتوار علومو په ګډون)
- 2 د نړۍ ژبه (ورته ژبه)*
- 2 PE*/روغتیا
- 0.5 ښایسته هنرونه
- 0.5 کمپیوټر ساینس
- مالي سواد**
- 2 انتخابي (لږ تر لږه 2 انتخابي مضامین باید د CTE هغو زده کونکو لپاره چې په خپل وروستي کال کې پرمختللی ریاضي نه نیسي د کالج د چمتو والي په کچه یا هغې څخه لوړې کچه کې وي. لږ تر لږه 1 د کالج د چمتو والي په کچه د ټولو زده کونکو لپاره وي.)

*د نړۍ د ژبې اړتیا ته معافیت به د ښوونځي ټیم لخوا چې مناسب وي و ټاکل شي.

**دا د شخصي مالي یا بل تایید شوي کورس له لارې بشپړ کېدی شي، د 2024 فراغت کوهورټ لپاره د محصول لخوا مهارت ښودل کېږي. د 1.5 څخه تر 2 اضافي اختیاري کریډیټه به د هغو بیژندل شوي زده کونکو لپاره اړین وي چې د مالي سواد زده کړې کورس ځنګه بشپړېږي.

### 2 | کالج او مسلک ته د چمتو کېدو پر بنسټ ازموینه

لاندې لیسټ سوي امتحانونه او ارزیابیانې به د زده کونکو د لوستلو، لیکلو، او ریاضي هنرونه اندازه کړي. د فراغت لپاره، زده کونکي باید له لاندینیو څخه یو بشپړ کړي:

- PSAT/NMSQT* — *ابتدائیه SAT / د ملي ورتیا بورسیې کامیابه کېدو ازموینه*
- SAT* — *مخکې د علمي ارزوني ازموینه، اوس فقط په SAT سره پیژندل کېږي*
- ACT *(د امریکا د کالج ازموینه)*
- AP *(پرمختللې ځای پر ځای کول)*

*د ایالت د ازموینې اړتیاوې

باید د ایالت په ازموینه کې په سوفومور او لومړي کال کې ګډون وکړي.

### 3 | د مدني فعالیت پر بنسټ د فراغت پروژه

باید یو د مدني فعالیت پر بنسټ د فراغت پروژه بشپړ کړي.

### 4 | د خلص سوانح په شمول د انفرادي زده کړې پلان (ILP) بشپړول

سربېره پردې، ټول فارغ شوي مشران هڅول کېږي چې د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت د فدرالي زده کونکو مرستې (FAFSA) یا د دولتي زده کونکو مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک بشپړ کړي.

### د چمتو والي لاره

زده کونکي، کورنۍ، او د ښوونځي ټیمونه ښايي وټاکي چې د چمتو والي لاره د یو زده کونکي د مطالعې له هغه کورس څخه عبارت ده چې د لومړي سمستر د پای څخه دمخه او د هغه د دریم کال له لومړي سمستر څخه وروسته نه وي.

د چمتو والي لارې هغو زده کونکو لپاره مناسبې دي چې د خپل فراغت د شرایطو بشپړولو لپاره یې کار کړي وي، په ټولو منځګړیتوبونو او وړاندې شوي ملاتړ کې یې ګډون کړی وي، او فراغت لپاره ښایي یوې بدیلې لارې ته اړتیا ولري. کورنۍ او زده کونکي باید په معیار کې د پروګرام اړوند بدلونونو په شرایطو او پایلو باندې د پوهېدو او رضایت ډاډمنولو لپاره د ښوونځي له کارکونکو سره په ګټورو جلسو کې ګډون وکړي کوم چې باید د هغوی په ILP کې ذکر او د کلنې خبرتیا له لارې ورسول شي.

**د استیناف پروسه** هر هغه زده کوونکی چې د فراغت لپاره د ښوونځي لږ تر لږه اړتیاوې پوره کولو کې پاتې راغلی حق لري چې پر دې پرېکړې عریضه وکړي. د عریضې د پروسې په اړه معلومات د منطقې د فراغت اړتیاو پالیسۍ کښې موندل کېدای شي:
www.providenceschools.org/graduation